دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او زمونږ په پیدایښت کې داسې امت هم شته چې د حق په لور ښوونه کوي او تل د حق په تله پرېکړې کوي او کومو کسانو چې زمونږ آیتونه درواغ گڼلي مونږ به یې پوړۍ په پوړۍ داسې ونیسو چې هغوی به پوه هم نه شي. اوس هغوی ته وخت ورکوم. زما تدبیر خورا پیاوړی دی.
(سورة اعراف: ۱۸۱ - ۱۸۳)

درس حدیث

از انس رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که دوست بدارد اینکه روزی اش فراخ گردیده و عمرش طولانی گردد، باید صلهء رحمش (پیوستگی با نزدیکان) را پیوسته بدارد. (متفق علیه)

شهادت خلورم کال، ۸ مه گڼه، پرله پسې ۱۵۹ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د غبرگولی ۱۰ مه د۱۴۳۳ هـ ق د رجب المرجب ۹ مه د۲۰۱۲ م د مې ۳۰ مه

PROPERTY OF ACKU

د توکیو کنفرانس د کورنیو عوایدو د لوړېدو لپاره جوړېږي "زاخېلوال"

د هېواد د اقتصادي ودې لپاره باید فقر او بېکاري له منځه یوړل شي "ارغندیوال"

کابل، رسنۍ:
د مالیې وزیر وایي، د توکیو کنفرانس د افغانستان د کورنیو عوایدو د لوړېدو په موخه جوړېږي او افغانستان باید تر ۲۰۲۰ کال پورې د دې ورتیا پیدا کړي، چې ۵۰ سلنه پروژې په خپله تمویل کړي.
مشرانو جرگې پرون د مالیې، اقتصاد، کرنې او سوداگرۍ وزیران خپلې عمومي غونډې ته وربللي وو، چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته د حکومت د اقتصادي تگلارو په اړه معلومات ورکړي او په دې اړه د جرگې د غړو اندېښنې ځواب کړي.
د صادراتو او وارداتو ترمنځ د انډول رامنځ ته کول، له هېواده د پانگې د وتلو مخنیوی، د صنعت د پرمختگ لپاره د اسانتیا او د اړتیا وړ انرژي برابرول، د دولتي تصدیو د خصوصي کېدو مخنیوی او په کرنیزه برخه کې

پاتې ۴ مخ

در کنفرانس مطبوعاتی در قاهره

مرسی: در صورت پیروزی "دولت ائتلافی فراگیر" تشکیل خواهم داد

رسانه ها:
نامزد اخوان المسلمون در اولین نشست خبری پس از راه یابی به دور دوم انتخابات تاکید کرد که در صورت پیروزی دولت ائتلافی تشکیل خواهد داد.
محمد مرسی نامزد اخوان المسلمون در انتخابات ریاست جمهوری مصر که با دستیابی به بالاترین آرا به دور دوم انتخابات راه یافته، نشست خبری برگزار کرد.
مرسی در ابتدا از تمام مردم مصر چه افرادی که به وی رأی داده‌اند و چه به وی رأی نداده‌اند، تشکر و قدردانی کرد و تاکید کرد که مردم برای ساختن آینده مصر متحد و یک واحدی هستند.
وی در کنفرانس مطبوعاتی در جمع خبرنگاران تاکید کرد که در صورت پیروزی در انتخابات ریاست جمهوری افراد قدرتمند را از میان گروه های سیاسی

بقیه در صفحه ۴

د بلخ پوهنتون د محصلینو د ځوانانو ټولنې د حزب اسلامي له لوړ پوړي هیئت سره وکتل

د غبرگولي د میاشتې په اوومه نېټه د دوشنبې پر ماښام ۸ بجې د بلخ پوهنتون د محصلینو شورا، له کابله د ورغلي هیئت د غړو هر یو ښاغلي عبدالجبار شلگري او ډاکتر محمد انور سره د پکتیا والي جمعه خان همدرد په کور کې وکتل. د بلخ پوهنتون د محصلینو په استازیتوب چې شمېر یې نږدې اتیا تنو ته رسېده انجنیر امان الله امین د هیئت غړو ته هرکلی وویل او د محصلینو پر وړاندې پر پرتو ستونزو وغږېده.
محترم ورور ډاکتر محمد انور او عبدالجبار شلگري د محصلینو د ستونزو له اورېدو وروسته هغوی ته ښېړ ډاډ ورکړ چې د لوی

پاتې ۳ مخ

شهید پاله مینا ولي خور د شهید آدم خان د قبر احاطه په شخصي لگښت جوړه کړه

محترمه خور مینا ولي چې د پیلوټ شاه ولی خان لور او د پکتیا ولایت اوسېدونکی ده او اوسمهال په ننگرهار کې ژوند کوي، خپل ژوند یې د ښوونې او روزنې د خدمت لپاره وقف کړی دی او تر دې دمه یې د خپل ملت د بچیانو لپاره نه هېرېدونکی خدمتونه کړي.
محترمې خور د ننگرهار ولایت د سره رود ولسوالی د پوهنې مدیریت اړوند د شال پاچا په نوم یوه ښوونځي هم جوړ کړی چې ۶۰۰ شاگردان پکې په زده کړه بوخت دي، دا چې میناولي خپل ژوند د علم او عرفان د ډیوې د روښانه کولو لپاره وقف کړی په دې آخره کې د سره رود د ولسوالی د یو اتل او

پاتې ۳ مخ

امریکا برای بازسازی بند برق کجکی ۴۷۱ ملیون دالر را مصرف کند

کابل، رسانه ها:
بند برق کجکی که حدود ۶۰ سال قبل در ولایت هلمند در چوکات مساعدت های انکشافی بین المللی امریکا اعمار شده است، در جریان جنگ های داخلی در افغانستان شدیداً خسارتمند شد و تولید انرژی برق در آن به سطح خیلی پایین تنزیل کرد.
ایالات متحدهء امریکا که برنامهء ختم جنگ را در افغانستان دارد، می خواهد برای بازسازی بند برق کجکی در ولایت هلمند، ۴۷۱ ملیون دالر را مصرف کند، تا مردم ولایات هلمند و کندهار بتوانند از انرژی برق مستفید شوند.
در سال ۱۹۴۰ میلادی محمد ظاهر، شاه سابق و فقید افغانستان، هیری ترومن رییس جمهور آن وقت امریکا را قانع ساخت تا به هدف آبیاری دشت های خشک هلمند، بند آبیاری

بقیه در صفحه ۴

سند ستراتیژیک با چین، افغانستان را در سطح منطقه مطرح می سازد

کابل، رسانه ها:
چین هشتمین کشور است، که افغانستان در نظر دارد، با آن موافقتنامهء همکاری های درازمدت را امضا کند. شماری از آگاهان، چین را یکی از قدرت های بزرگ اقتصادی در سطح جهان می دانند.
به گفتهء این آگاهان، موافقتنامهء همکاری های درازمدت میان افغانستان و چین از لحاظ اقتصادی و سیاسی به مفاد افغانستان است.
نصرالله ستانکزی یک تن از این کارشناسان به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی در این مورد چنین گفت:
"چین به عنوان یک قدرت جهانی و عضوی سازمان شانگهای و همچنان عضو شورای امنیت سازمان ملل متحد می تواند افغانستان را به مناسبات بین المللی و رشد اقتصادی کمک کند، از طرف دیگر در گذشته چین روابط خوب با کشور همسایه ما پاکستان داشته و همیشه این کشور افغانستان را به درجه دوم نگاه کرده است، اگر ما روابط ستراتیژیک با چین داشته باشیم این نگاه ها و روابط که با پاکستان دارد تضعیف می شود."
وزارت خارجهء افغانستان اعلام کرده است، که طرح موافقتنامه همکاری درازمدت با چین را ترتیب داده اند. به گفتهء وزیر خارجه، قرار است در این مورد با مقام های چینی در حاشیهء کنفرانس شانگهای صحبت نمایند.
کنفرانس سران سازمان شانگهای در ماه جون سال روان در چین برگزار می گردد و در این کنفرانس افغانستان به عنوان ناظر اشتراک خواهد کرد.
در همین حال شماری از تحلیگران امور اقتصادی افغان با اشاره به فعالیت شرکت های

بقیه در صفحه ۳

در حاشیهء روابط دوستانهء افغانستان و ایران

اعزامی

صفحه دوم

هر څوک دې د خپل مسؤولیت غم وخوري

عبیدالله صافی

درېیم مخ

د بهرنیو دوستانو د دوستي یوه بله ډالۍ

محمد خلیل

د تېرې شنبې په ورځ د پکتیا ولایت گرده څېرۍ ولسوالۍ په سوري خیلو کلي کې ناټو ځواکونو د یو کور ۸ غړي ووژل، په وژل شویو کسانو کې پلار، مور او دهغوی شپږ ماشومان شامل دي.
دا لومړی ځل نه دی چې ناټو ځواکونو په افغانستان کې دا ډول جرم ترسره کړی وي بلکې لدېنه وړاندې هم د بې شمېره جرمونو په ترسره کولو ددې خبرې ثبوت وړاندې کړی چې هغوی ته د افغانانو وژنه، نه گناه ښکاري او نه هم قانوني جرم، ځکه خو په پرله پسې ډول د بې گناه ملکي افغانانو د وژلو لړۍ یې نه یواځې دا چې جاري ساتلی بلکې گړندۍ کړی هم ده.
د نړۍ په هېڅ قانون کې د ناټو ځواکونو دغو کړنو ته هېڅ قانوني مجوز او تعبیر نه شي موندل کېدلې ځکه خو هر ځل د بخښنې په غوښتلو د ځان د خلاصولو کوښښ کوي او داسې ښکاره کوي چې گویا دا کار موږ سهواً کړی نه عمداً، په داسې حال کې چې کله سهوه په پرله پسې توگه تکرار شي هغې ته سهوه نه، غفلت او بې پروایي ویل کېږي چې پخپل ځای لوی جرم او د نه بښلو وړ گناه ده.
امریکایي او ناټو ځواکونه افغانستان ته دهغوی په اصطلاح له ترهگرو سره د جگړې او د افغانانو د ژوند د مصؤنیت لپاره راغلي دي او افغانانو هم دهغوی شتون په دې خاطر زغملی چې په افغانستان کې امنیت تأمین او د هېوادوالو ژوند مصؤن کړي خو چې بهرني ځواکونه، نه د ترهگرو په وړاندې بند اچولي شي او نه هم د افغانانو ژوند ته مصؤنیت ورکولي شي بلکې پخپل لاس یې وژني نو افغانان څنگه کولې شي د بهرنیانو دغه بې ځای وژنې وزغمي او پر شتون یې رضا شي؟ افغانان خو د بهرنیو ځواکونو د شتون تریخ غرب په دې خاطر تېروي چې هغوی د خپلې ادعا مطابق په افغانستان کې امنیت تأمین او بیارغاونې کارونه پرمخ بوځي خو د تېرو یو لسو کلو راهیسې چې بهرنیو ځواکونو

پاتې درېیم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

مال له سر نه ځار او سر له ناموسه!

د نړۍ پرمخ داسې هېواد شتون نه لري چې هغه دې د خپلې خاورې او ولس د دفاع لپاره منظم پوځ پرمختللې وسله او نور پوځي مهمات او وسائل ونه لري، د هر هېواد اوسېدونکي خپل هېواد او خپل استقلال له بل هر څه مقدم او مهم ګڼي څکه خو ددې د ساتنې لپاره خپل ځان او مال نه دریغوي، هر ځوان چې د خپلې خاورې په دفاع کې خپل ژوند له لاسه ورکوي او یا هم خپل کوم غړی بایلي هغه ته د تاریخ د قهرمان لقب ورکول کېږي، دهغوی پر قبرونو د یادونو څلی جوړېږي او د تاریخ په پاڼو کې نوم یې په طلایي تورو لیکل کېږي.

د منظم پوځ جوړول او بیا هغوی په مدرنو او پرمختللیو وسلو مجهز کول، د هېواد زیاته برخه بودیجه د پوځي لګښتونو لپاره ځانګړې کول، ښه مشق او تمرین ورته ورکول په دې حقیقت ګواهي ورکوي چې د نړۍ د ټولو هېوادو اوسېدونکو په وړاندې خپله خاوره او خپل استقلال له هر څه مهم او قیمتي دی.

کوم هېواد چې خپلواک او د پردیو له لاسوهنې په امن کې نه وي نو اوسېدونکی یې هم د عزت او آبرو له ژوند نه برخمن نه وي، استقلال او ملي هویت یې له منځه ځي او د بل چا د غلامۍ په زنځیرونو کې تړل کېږي.

غلامي هغه بدترین او له پیغور نه ډک سپک ژوند دی چې په انساني تاریخ کې هیچا نه دی خوښ کړی بلکې تر آخري توانه یې کوښښ کړی چې د غلامۍ قفس ماته او په آزاده او خپلواکه فضأ کې ژوند ترسره کړي.

که موږ د تاریخ پر پاڼو نظر واچوو نو زیاتره جنګونه د غلامۍ نه د خلاصون او د یو خپلواک ژوند د ترلاسه کولو لپاره ترسره شوي دي، داسې یو هېواد څوک نشي ښودلی چې اوسېدونکو یې د پراختیا غوښتونکو استعماري ځواکونو پرخلاف د خپلې خاورې او استقلال د دفاع جګړه نه وي کړې، خپلې ککرۍ او وینې یې نه وي نذرانه کړي او یا هم له مقاومت او مزاحمت نه لاس په سر شوی وي، څه کم یوه پېړۍ کېږي فلسطینیان له یهودو نه د خپلې خاورې د بېرته د ترلاسه کولو او د یو مستقل هېواد د جوړولو لپاره په پرله پسې ډول خپلې ککرۍ نذرانه کوي، هره ورځ په لسګونو تعداد کې خپل اولادونه قرباني کوي خو د یهودو د تسلط منلو ته غاړه نه ږدي، همدغه راز چیچنیایانو هم د دوه پېړیو راهیسې له روسي استعمار څخه د استقلال او خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره د خپلو سرونو د نذرانه کولو لړۍ تاوده ساتلې، د هټلر د پراختیا غوښتنې په خلاف چې بریتانیا، اروپا او روسیه د لکونو په شمار تلفات ورکړي دي هغه له هیچا پټ نه دي، د بوسنیا هرزه ګوینا ولس چې له سربانو نه د استقلال د ترلاسه کولو لپاره کومه لویه قرباني ورکړه هغه هم د تاریخ په پاڼو کې ثبت ده، لنډه دا چې د نړۍ په سر داسې هېڅوک نه تر سترګو کېږي چې هغوی دې د غلامۍ پر ژوند خوښ وي.

افغانان هم له خپل هېواد او خاورې سره د مینې لوی شهرت او تاریخ لري، خپلې خاورې ته د ناموس په سترګه ګوري او ددې ساتنه پر خپل ځان فرض ګڼي. افغانان خو تر دې وایي چې مال له سر نه ځار او سر له ناموس نه، وطن او خاوره هغه ناموس دی چې له دې پرته د هېڅ افغان عزت او وقار پرځای نشي پاتې کېدلې څکه خو افغانانو پخپل پنځه زره کلن تاریخ کې د نړۍ له بل هر قوم نه زیات د خپلې خاورې او عقیدې په دفاع کې قربانۍ ورکړې او دنړۍ هر یرغلګر ځواک یې د اوسپنو نینیو چیچلو ته اړ کړی دی، دلته نه د سکندر پوځونه مرام ته رسیدلي نه د چنګیز، هلاکو خان، انګریز او روسي وحشي ځواکونه بلکې ټول مات ګوډ شوي او تېښته یې ځان لپاره غنیمت ګڼلې.

په دې کې هېڅ شک نشته چې افغانان یو ځل بیا له سخت ازمېښت سره لاس او ګریوان دي خو دښمنان نه غواړي چې له دې ازمېښته بریالي ووځي، یو ځل بیا پخپلو پښو ودرېږي خپل منظم پوځ، پولیس او نظام ولري، د پیاوړی اقتصاد او پیاوړې نظام خاوندان شي، په سیمه کې له خپلو سیالانو سره په هسکه غاړه ژوند وکړي، خو له دې نازک حالت نه د وتلو یواځینی مسؤولیت پر افغانانو دی صرف افغانان کولې شي چې خپل دغه منفي حالت پخپلو کې یو بل ته د ورورۍ او ملي یووالی له لارې مثبت حالت ته واړوي څکه چې د افغانانو پر وړاندې د بریالیتوب یواځینې چانس په اتفاق، یووالي، هم غږۍ او هم بستګۍ کې دی. قومي، ژبني، سمتي او مذهبي اختلاف ته لمنه وهل او یا هم د یو بل د لاندې کولو لپاره له نورو هېوادو سره اړیکې نیول او دهغوی په فرمایش خپل پالیسي پرمخ وړل له خپل ناموس سره خیانت کول دي چې په انساني نړۍ کې تر ټولو لوی بې غیرتي ګڼل کېږي.

افغانانو چې د نړۍ په تاریخ کې د غیرتي قوم کوم لقب ګټلې دی نه ښایي خپل دغه ویاړلې لقب له لاسه ورکړي.

الحمدلله افغانان د پرون په څېر نن هم ددې استعداد لري چې د دښمنانو ټول مکر او فریب شنډ او د نړۍ په سر د یو مستقل او آزاد قوم په توګه په هسکه غاړه د عزت او وقار ژوند تیر کړي. خو په دې شرط چې د خودخواهي، خودسري، قومي، ژبني، مذهبي او زور سالارۍ د منطق پرځای له خپلې خاورې، عقیدې، ولس، حق، قانون او اصولو سره د مینې منطق خپل کړی شي او ټول په یو اتفاق د خپل هېواد او ولس د خدمت او سرلوړی لپاره په صمیم عزم او قوي ایمان ډګر ته راودانګي، خپل سرونه دې په پوره شهامت قربان کړي مګر د خپل ناموس له سر نه دې د ځادر پیڅکه ښوېدو ته پرې نږدي.

در حاشیهء روابط دوستانهء افغانستان و ایران

اعزامی

جمهوری اسلامی ایران (همسایهٔ غربی افغانستان) با داشتن حدود ۹۳۶ کیلومتر مرز مشترک با کشور ما و داشتن مؤلفه های دیگر اعم از تاریخی، دینی، نژادی، زبانی، فرهنگی، اجتماعی و مشابهت های جیوپولیتیک دیگر که تا حدی مربوط به عامل همجواری و تا جای هم از اشتراکات فوق الذکر ناشی می شود، موجب گردیده که هر دو کشور در طول تاریخ اغلباً دارای روابط دوستانه باشند؛ ولی در مقاطع مختلف زمانی گهگاهی بنابر بروز یکسری اختلاف نظرها میان ارباب اقتدار، تنش های به گونهء یورش های نظامی، ادعاهای ارضی و هیدروپولیتکی، اختلاف بر سر منافع سیاسی و اقتصادی و اختلاف ناشی از برقراری روابط با کشورهای دیگر، مناسبات هر دو کشور را متشنج نموده است، مگر این اختلافات و تنش های دو جانبه، مستدام نبوده و پس از مدت زمانی دوباره بحالت عادی برگشته و بر جریان مسالمت آمیز روابط هر دو کشور تأثیر عمیق بجا نگذاشته است.

ایران در میدان رقابت با کشورهای منطقه در قضیهٔ افغانستان، چنان احساس می کند که هنوز به اندازهء پاکستان، هند، امریکا، عربستان سعودی و ترکیه دست بالا ندارد و کمک های وعده داده شدهء ایران برای بازسازی افغانستان، در کنفرانس های بین المللی کمک به افغانستان، بنابر تعبیر وارونهٔ کشورهای رقیب، نزد افغان ها در مظان انفعال قرار گرفته است.

ایران در شرایط کنونی با وجود ادعای داشتن روابط حسنه با افغانستان، حضور نیروهای خارجی بالاخص نیروهای امریکایی را به عنوان یک تهدید عمده برای منافع ملی خود دانسته و برای وادار ساختن این نیروها برای عقب نشینی هر چه در توان داشته باشد، دریغ نمی کند. مزید بر آن مقامات ایرانی از توسعهٔ کشت خشخاش در افغانستان، اقامت تقریباً دو ملیون آوارهٔ قانونی و غیر قانونی افغان در آن کشور، طرز استفادهٔ افغانستان از آب رودهای منتهی به خاک ایران، شکل گیری یک رژیم متمایل به داشتن روابط ستراتیژیک با غرب، همصدایی با نارضایتی های ساکنان اهل سنت آن کشور از برخورد حکومت ایران با آنها و بالاخره حذف ایران از مسیر پروژهٔ خط لولهٔ نفت و گاز آسیای مرکزی به کشورهای جنوب آسیا (تاپی) در صورت انتخاب مسیر افغانستان، نگرانی عمیق دارد.

هر چند مقامات هر دو کشور طی ده سال اخیر ظاهراً ادعا می کنند که تهران و کابل توانسته اند، روابط شان را از گزند بازی ها و رقابت های بین المللی در منطقه دور نگهدارند، ولی واقعیت امر اینست که سیاست های منطقوی بلاک غرب بالاخص ایالات متحدهٔ امریکا، بر روابط فیمابین ایران و افغانستان تأثیر منفی اش را بجا گذاشته است. حضور بیشتر از صد هزار نیروهای ناتو و ایالات متحدهٔ امریکا در افغانستان و امضای پیمان همکاری های ستراتیژیک میان واشنگتن و کابل از یکسو و تشدید تنش روز افزون در روابط ایران و امریکا بر سر برنامه تولید انرژی هسته ای ایران از سوی دیگر، وضعیت سیاسی مبهمی را در منطقه بوجود آورده است.

اظهارات دو هفته قبل سفیر جمهوری ایران در باب امضای پیمان استراتیژیک



افغانستان با ایالات متحدهٔ امریکا که گویا این پیمان به منافع افغانستان و ایران، خدشه وارد می کند و پارلمان افغانستان بایست با تردید آن در اجلاس عمومی از وقوع عواقب وخیم آن جلوگیری نماید، نمونهٔ کوچکی از موضع همیشگی ایران در قبال قضیه افغانستان می باشد و این موضع رسمی ایران، قبل از این نیز بارها از زبان مقامات آن کشور شنیده شده است. مگر باوجود آن ارباب اقتدار هر دو کشور دم از داشتن روابط دوستانه می زنند و ایران خود را یکی از جمله کشورهای ذیدخل در حل بحران افغانستان می داند. همین اظهارات قبلاً نیز توسط مقامات ایرانی به هیأت های حکومت و پارلمان افغانستان، حین بازدید از تهران گفته شده بود که هر باری با واکنش تند جانب افغانستان مواجه شده است.

جانب افغانستان با تأکید گفته است که حضور نیروهای خارجی در کشور ما، هیچگاهی به ضرر کشورهای همسایه بالخصوص ایران و پاکستان نخواهد بود، چنانچه در یکی از سندهای این پیمان آمده است که نیروهای امریکایی از خاک افغانستان حق تحرکات نظامی علیه کشورهای همسایه را ندارد و آنها از این بابت هیچگونه نگرانی ای در خود راه ندهند، مگر ایرانی ها باوجود این اطمینان ها، نارضایتی خویش را پنهان ننموده و سفیر آن کشور با اظهارات عاری از آداب دیپلوماتیک، فضای روابط دوستانهء هر دو کشور را مخدوش ساخت و این موضع‌گیری موجب گردیده که یکبار دیگر روابط متشنج هر دو کشور در دورهٔ طالبان در خاطره ها زنده گردد.

در این شکی نیست که مقامات هر دو کشور مایل نیستند که روابط دوستانهء هر دو کشور خدشه دار شود و هر دو طرف آخرین مساعی شان را به خرچ خواهند داد تا از تیرگی روابط دو کشور جلوگیری شود. چنانچه در فردای این اظهارات ناخوشایند، انتشار خبر امضای قرارداد انتقال مال التجارهٔ افغانستان از بندر چاه بهار ایران با عبور از مسیر بندر میلک در ولایت نیمروز به داخل کشور، تا حدی خاطرهٔ منفی اظهارات سفیر ایران را از اذهان زدود.

مقامات ایرانی باید بخاطر داشته باشند که کشورهای منطقه علی رغم همکاری های دو جانبه و داشتن منافع با همی در بعضی حالات با همدیگر منافع مشترک ندارند بطور مثال: اگر پروژهٔ انتقال نفت و گاز آسیای مرکزی به جنوب آسیا از مسیر افغانستان عبور کند، به نفع افغانستان می باشد و اگر احیاناً همین پروژه از مسیر ایران عبور نماید، به نفع ایران خواهد بود. همچنان اگر نیروهای ایالات متحدهٔ امریکا در اثر امضای پیمان ستراتیژیک با آن کشور، در افغانستان باقی بماند، بنابر تنش فیمابین واشنگتن و تهران این نیروها به مثابه یک آلت تهدید و فشار علیه ایران است، ولی به زعم اولیای امور کابل موجودیت این نیروها تا چند سال دیگر برای حفظ ثبات در منطقه و نیز تا هنگام خودکفایی نیروهای امنیتی افغان یک ضرورت می باشد و به همین قیاس مثال های دگر ... دوستان ایرانی ما این نکته را نیز بخاطر داشته باشند که در میدان سیاست، برد و باخت و بده و بستان یک امر معمول است و آنها نباید انتظار داشته باشند که در این میدان همیشه فقط ببرند و بستانند ! بلکه گهگاهی پذیرای باختن و دادن نیز باشند ! رژیم ایران در جریان دورهٔ مقاومت با تمام قوا از مخالفان رژیم طالبان حمایت می نمود، مگر آن حمایت ها منجر به شکست و سقوط رژیم طالبان نگردید تا آنکه پس از وقوع حادثهٔ ۱۱ سپتامبر ایالات متحدهٔ امریکا بالفعل وارد معرکه شد و با یورش بم افگن های جنگی آن کشور از هوا، مقاومت نیروی طالبان درهم شکست و پس از یکماه رژیم مزبور سقوط کرد. سقوط رژیم طالبان در کابل بوسیلهٔ امریکایی ها برای تهران یک برد به شمار می رفت، زیرا ایرانی ها شاهد سقوط رژیم در جوار شرقی خویش بودند که طی چند سال با صرف هزینه های گزاف قادر به استیصال آن نشدند، ولی از سوی دیگر: جای طالبان در افغانستان نیروهای جابجا شدند که بیشتر از طالبان اسباب نگرانی تهران را فراهم آورد. و بالخصوص با حضور دراز مدت نیروهای امریکایی در منطقه در نتیجه امضای پیمان ستراتیژیک، وضعیتی پیش آمد که ایرانی ها در قضیه افغانستان مصداق همان ضرب المثلی قرار گرفتند که گویا آنها از زیر چکک برخاستند، مگر در زیر ناوه گیر ماندند !

د بهرنيو دوستانو د دوستي يوه بله ډالی

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

له بې گناه افغانانو سره د ظلم، وحشت او بربريت کومه لوبه پيل کړی افغانانو پخپل پنځه زره کلن تاريخ کې چېرته نه و ليدلي، تر اوسه هغو ترهگر و لا هم چې امريکايي او ناټو ځواکونه دهغوی د ځپلو لپاره راغلی دي او د انسانيت د لوی دښمن په نوم يې يادوي چېرته داسې نه دي کړي چې د يو کور ټول غړي يې يو ځای وژلي وي، خو د ترهگرۍ پرضد جنگېدونکو امريکايي او ناټو ځواکونو پر بې گناه ولسي وگړو د ظلم او بربريت داسې ميچنې وگرځولی چې خلك يې د ترهگرو ارمانجن کړل.

بې گناه افغانان د تېرو يولسو کلو راهيسې د ژرندې ددوه پلونو په منځ کې راگير دي، بهرنيان يې له ترهگرو سره د لاس لرلو په تور وژني او دهغوی مخالفين يې بيا له بهرنيانو سره د مرستې او يا هم دهغوی پر شتون د چوپتيا په گناه کې سرونه ورته غوڅوي، د تېرو يولسو کلو په اوږدو کې تر ټولو لوی مالي او ځاني تاوان بې گناه ولسي وگړو ته رسيدلې ده په داسې حال کې چې دواړه لورې ادعا کوي چې زموږ جگړه د افغانستان د ولسي وگړو د خونديتوب لپاره ده. خو که د افغانستان له مسلمان ولس نه پوښتنه وشي نو دهغوی ځواب دا دی چې موږ د ترهگرۍ تر عنوان لاندې له پيل شوې جگړې نه بيزاره يو دا جگړه که په هر نوم پرمخ وړل کېږي تاوان يې سراسر افغانانو ته دی. که امريکا د سپتمبر د يولسمې پيښې چې ټول ټال يکې درې زره کسان وژل شوي وو د زغملو حوصله په ځان کې پيدا نه کړی شوه او ددغې پيښې مشکوکو عاملينو القاعدې پسې له ناټو سره يوځای افغانستان ته راغله نو افغانان چې د تېرو يولسو کلو راهيسې د ناټو او امريکايي ځواکونو د الوتکو او توپونو په بمباريو کې خپل قيمتي ژوند له لاسه ورکوي څنگه کولی شي صبر وکړي او په همدې حالت قانع واوسي؟ ! که چېرته د يولسم سپتمبر په پيښه کې د دريو زرو کسانو وژل کېدل د ترهگرۍ په تعريف کې راتلې شي او دهغوی وژونکي ترهگر کېدلی شي نو په افغانستان کې چې د امريکايي او ناټو ځواکونو له لاسه تراوسه شاخوا څلويښت زره بې گناه ولسي وگړي وژل شوي دي ايا دهغوی وژونکي د ترهگرو په تعريف کې نه شي راتلې؟ ! آيا افغانان هم د امريکايي ولس په څير دا حق نه لري چې خپلو قاتلينو ته ترهگر ووايي او دهغوی په خلاف د خپلې کرکې څرگندونه وکړي؟ وژنه، خورونه، تيری او بربريت چې هر څوک يې کوي يو حکم او يو ډول گناه لري نه دا چې که په امريکا، اروپا او نورو هېوادو کې څوک بمي بريدونه وکړي هغه دې د ترهگر په نوم ياد شي خو چې په افغانستان کې پوره پوره کلي او کورونه په بمباريو کې له خاورې سره خاورې کړې او اوسېدونکی يې پخپلو وينو کې ولمبوي هغه دې سهوه وگڼل شي او يوازې د بخښنې په غوښتلو سره دې برئت ترلاسه کړی شي؟ په خدای قسم چې دا ښکاره او نه پټېدونکی ظلم دی په دې سره ترهگري د ختمېدو پر ځای نور هم زياتېږي، ځکه چې هر عمل عکس العمل لري او د هر انسان په فطرت کې د انتقام جذبه اغړل شوې.

دهغه پلار په سينه کې به څنگه د بهرنيانو په خلاف د انتقام اور بل نه شي چې تنکي ماشومان يې د بهرنيو پوځيانو په بمباری کې وژل شوی وي او په وينو کې لت پت دهغه مخې ته پراته وي؟ دهغه ځوان زوی او د ځوان ورور د انتقام جذبه به څنگه موجونه نه وهي چې بې گناه پلار، مور، خور او ورور سينې يې د بهرنيو ځواکونو په گوليو غلبيل غلبيل شوې وي.

امريکا او ناټو ځواکونه چې افغانانو ته د دوستي سينې ډبوي او خپل شتون له افغانانو سره د دوستي په نوم يا دوی نو آيا د دوست کار همدا وي چې خپل دوست د کورنی له ټولو غړو سره ختم کړي، دهغه کور او کلی بمابر کړي او د سر او مال تاوان ورته واړوي؟ !

افغانانو پخپل پنځه زره کلن تاريخ کې ډېر دوستان او دښمنان ليدلی دي او ډېرې ترخې او خوږې يې گاللي دي نو ځکه خپل دوستان هم ډېر ښه پيژني او دښمنان هم، دا د وياړ خبره ده چې افغانانو کله هم له خپلو دوستانو سره بې وفايی نه ده کړې د دوستي حق يې هم ډېر ښه ادا کړی او د دښمني حق يې هم.

که امريکا واقعاً له افغانانو سره د دوستي جذبه لري او خير ښېگڼه ورته رسول غواړي نو افغانان يې د قدر په سترگو ورته گوري خو که د دوستي تر عنوان لاندې له افغانانو سره د دښمنی اړيکې پالي نو بيا افغانان چې دهغوی په خلاف کوم عکس العمل ښکاره کوي مسؤوليت يې د دوستانو پر غاړه دی نه د افغانانو پر غاړه د دوستي په مفهوم کې، وژنه، خورونه، درغلی، چل ول او مفاد پرستی نه ځائېږي بلکې دوستي دېته ويل کېږي چې په مشکلو حالاتو کې له څه لالچ پرته د دوست لاس نيوې او مرسته وشي او له بدحالت څخه ښه حالت ته وويستل شي، خو امريکا او ناټو ځواکونو چې په افغانستان کې د تېرو يولسو کلو راهيسې د افغانستان له وگړو سره د غفلت او بې بندو باري کوم سلوك پيل کړې او په پراخه کچه د افغانانو پر وژلو لاس پورې کړې دا ټول د دوستي منافي کړنې دی چې افغانان يې له دښمني پرته بل هېڅ نوم نه شي ورکولې، همدا وجه ده چې د وخت په تېرېدو ددې پرځای چې له بهرنيانو سره د افغانانو په زړونو کې د دوستي جرړې مضبوطې شي برعکس د کرکې او نفرت جرړې وده کوي که امريکايي او ناټو چارواکي واقعاً په افغانستان کې سوله او امنيت راوستل غواړي او په دې سيمه کې افغانستان د ثبات او استحکام په ډگر بدلول غواړي نو بيا دې په افغانستان کې خپل هر گام په پوره احتياط اوچت کړي، د افغانانو د ځان، مال، عزت، دين او کلتور ته دې بشپړ پاملرنه وکړي او هر هغې کړنې څخه دې په کلکه ډډه وکړي چې د افغانانو په زړونو کې د دښمنی جذبې راټوکوي او دهغه ځا په غبږ کې پريوته اړ کوي چې په افغانستان کې د جنگ جگړې اور بل ساتل غواړي، که نه نو دا خبره دې د کاڼي کرښه وگڼي چې امريکا او ناټو ځواکونه به له انگريزانو او روسانو نه هم له بد حالت سره مخامخ شي سر به يې هم لاړ شي او سرسر به يې هم.

د بلخ پوهنتون د حزب اسلامی ...

الله په مرسته به دا ټولې ستونزې په تدريج سره له منځه لاړی شي.

په پای کې د ښاغلی جمعه خان همدرد خوان زوی گل رحمان چې له علم او عرفان سره بې کچه مينه يې له چا پټه نه ده په ټولنه کې د محصلينو د فعالې ونډې پر اهميت خبرې وکړې او له هغوی سره يې ژمنه وکړه چې د خپل تر آخري توان پورې به ورسره خپل هر اړخيز مرسته دريغ نه کړي. غونډه د ډاکتر صيب محمد انور په دعا پای ته ورسېده.

شهيد پاله مينا ولي خور د شهيد ...

قهرمان قوماندان شهيد آدم خان د جهاد او مقاومت د کارنامو، چې د کمونستانو او روسانو سره په مخامخ جگړه کې ترسره کړي وو دېته وهڅوله چې خدای بخښلی د اتل شهيد د قبر احاطه چې د شمشمپور د احمد دشت غازي په سيمه او قريه کې واقع دی په شخصي لگښت جوړه کړي. ټول مجاهدين، د سره رود ولسونه، خصوصاً د شهيد آدم خان کورنی دميناولي خور ددې نيك اقدام څخه منته، او له لوی خدای جل جلاله څخه ورته ددغه نيك عمل بدلـه غواړي.

سند ستراتيژيک با چين...

چينی در بخش معادن افغانستان، می گويند که در حال حاضر افغانستان روابط خوب تجارتی با چين دارد.

سيف الدين صيحون استاد اقتصاد در پوهنتون کابل در صحبت با راديو آزدی گفت، که اگر موافقتنامهء همکاری های دراز مدت ميان دو کشور امضا شود، روابط تجارتی افغانستان و چين گسترش خواهد يافت.

"چين نگاه سياسی به افغانستان ندارد و روابط اين کشور بيشتر روی روابط اقتصادی می باشد، اين همکاری (موافقتنامه همکاری های درازمدت) می تواند منتج به راه های مواصلاتی و انتقال کالا از طريق چين به افغانستان و برعکس به چين گردد و همچنان زمينه برای توسع و انکشاف زير بناهای گردد که چين بالای آن در افغانستان سرمايه گذاری کرده است. "

چين در اين اواخر علاقمندی زيادی به سرمايه گذاری در بخش معادن افغانستان نشان داده است. معدن مس عينك ولايت لوگر و نفت حوزه آمو دريا دو پروژهء بزرگ اند که شرکت های چينی حاضر شده اند، تا مسوولت استخراج آن را به عهده بگيرند.

چين در بخش صادرات به افغانستان نيز در سال های گذشته دست آورد های زيادی داشته است. گزارش ها می رسانند که اين کشور سالانه به ارزش نزديك به دو ميليارد دالر امريکايی به افغانستان صادرات دارد.

افغانستان در حالی برای امضای موافقتنامهء همکاری های دراز مدت با چين آماده گی می گيرد، که پيش از اين با هفت کشور ديگر مثل ايالات متحدهء امريکا، هند، ايتاليا، بريتانيا، آلمان، فرانسه و آسترليا توافقنامه های همکاری درازمدت را به امضا رسانده است.

مقام های افغان گفته اند، قرار است با تعدادی از کشور های ديگر مثل ترکيه نيز چنين توافقنامه هايی را امضا کنند.

هر څوک دي د خپل مسؤوليت غم وخوري

عبيدالله صافی

زموږ د ډېرو ورونو دا عادت گرځېدلی دی چې هر وخت پر هغو اشخاصو تنقيدونه کوي چې په ماضي کې تېروتنې کړې دي، صحيح ده چې له هغوی نه به تېروتنې شوي وي، خو پوښتنه داده چې آيا پر هغوی تنقيدونه او نيوکې زموږ حال او مستقبل ښه کولی شي او که نه؟ زما په اند هغوی چې کومې تېروتنې کړې دي له هغو نه صرف عبرت او پند اخستل پکار دي چې موږ يې له تکرارولو نه ډډه وکړو خو ډېر افسوس چې موږ هم د همغوی لاره خپله کړی ده او ددې پرځای چې خپل ځانونه اصلاح او خپل حال او مستقبل ښه کړو برعکس لگيا يو د مخکنيو ورونو پر غلطيو او تېروتنو نيوکې کوو، په داسې حال کې چې هر څوك پخپله د خپل کار ځواب ورکوونکی دی. که چا ښه کړی وي او خپل مسؤوليت يې په سمه توگه ادا کړې وي نو د تاريخ په پاڼو کې به هم په دروند نوم يادېږي او د الله په وړاندې به هم سرلوړی وي، خو که چا خپل مسؤوليت په سمه توگه نه وي ادا کړې او له خپل ملت او خاورې سره د خيانت مرتکب شوې وي د تاريخ په پاڼو کې به هم سپك او ذليل وي او د الله جل جلاله په وړاندې به هم ذليل او سرټيټې وي. موږ که دهغوی پر حال څومره افسوس وکړو او يا هم څومره يې وستايو تر هغه څه گټه نه لري تر څو چې موږ پخپله خپل مسؤوليت په صحيح معنی ترسره نه کړو، هر انسان په دې دنيا کې ټاکلې عمر او ټاکلې مسؤوليت لري موږ بايد د خپل مسؤوليت او عمر په غم کې واوسو چې آيا هغه د خپل دين، خاورې او ولس په گټه مصرفوو او که د لعين شيطان او دهغه د دوستانو په گټه؟ که واقعاً د الله تعالی د خوښې او د خپل ولس او خاورې د گټو لپاره مصرفوو نو موږ خپل مسؤوليت او خپل ژوند په صحيح او سمه لاره کې مصرف کړي دي، او که الله مکره د تېرو اسلافو په څېر خپلمنځيو جگړو، بې اتفاقيو، درغليو، فسادونو، ورور وژنو، قومي او مذهبي تعصبونو او فسادونو کې تېروو نو بيا موږ هم دهغو اشخاصو د تقليد پړې په غاړه اچولې چې نن ورباندې تنقيدونه او نيوکې کوو.

راځئ د يو بل په سترگو کې د خاورې د اچولو او د بوسو لاندې د اوبو د تېرولو پر ځای واقعيتونو ته تسليم شوو او ټول په گډه پر يو بل د ناروا تبليغاتو او نيوکو پر ځای د خپلو ځانونو د اصلاح فکر وکړو، د الله تعالی پر دين کلك منگولې ولگوو، د محمد صلی الله عليه وسلم په نخچ قدم ولاړ شو، پخپلو کې يو بل ته د ورورې کلك لاسونه ورکړو او د خپلې خاورې او مظلوم ولس د خدمت لپاره په يو منظم صف کې ودرېږو تر څو د راتلونکی نسل له تنقيد او خيرا نه بچ او د تاريخ په پاڼو کې د نيکانو او خدمتگارانو په لست کې وليکل شوو.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

په افغانستان کې د ناټو ماموریت تر فشار لاندې دی

تایمز:
د بریتانیې چاپ تایمز ورځپاڼې په خپله پرونۍ ګڼه کې په پکتیا ولایت کې د ناټو په هوایي برید کې د یوې افغان کورنۍ د اتو غړو د وژل کېدو په اړه یو مطلب خپور کړی چې په یوه برخه کې یې راغلي:
په افغانستان کې د ناټو ماموریت د پنجشنبې په ورځ د ناټو ځواکونو له خوا د افغانانو د یوې کورنۍ د غړو له وژل کېدو وروسته له نوېو فشارونو سره مخامخ شو.
افغان چارواکي وايي، د دې کورنۍ غړي د پنجشنبې ورځې په ماښام د ناټو په هوایي برید کې چې زیاتراً د شپې له خوا کېږي، وژل شوي.
تایمز لیکي، دې پېښې د هغه هېواد خلک په غوسه کړي دي چې له څو کلونو راپه دې خوا له نړېوالو ځواکونو څخه په هوایي حملو کې د زیات احتیاط غوښتنه کوي.
د راپورونو له مخې په دې برید کې شپږ ماشومان او د هغوي مور او پلار وژل شوي دي او ویل کېږي چې یوازې یو، لس کلن هلک له دې برید څخه ژوندی پاتې شوي.
تایمز ورځپاڼه وړاندې زیاتوي، ناټو ویلي دي چې د دې پېښې په اړه تحقیقات کوي، خو دوي زیاتوي، چې تر اوسه یې داسې شواهد نه دي موندلي چې په دې حمله کې د ملکیانو وژل کېدل وښیي.
ډېلي ټلګراف:
د انګلستان چاپ بله ورځپاڼه ډېلي ټلګراف هم د دې موضوع په اړه د مطلب په یوه برخه کې د نړېوال ائتلاف ځواکونو د ویاند له قوله لیکي چې وايي، د پېښې په سیمه کې د دوی پر ځواکونو د وسله والو طالبانو د یوې لویې ډلې له خوا برید شوی و او څکه دوي د هوایي مرستې غوښتنې وکړه.
ورځپاڼه لیکي، د ناټو چارواکي اوس په دې اړه تحقیق کوي چې ایا د نړېوالو ځواکونو عملیات او د مرستې لپاره سیمې ته د هوایي ځواک د استولو خبره د سیمې د خلکو له ادعا سره ارتباط لري کنه.
وال سټریټ ژورنال:
پر همدې موضوع، په نیویارک کې خپرېدونکي وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې هم یو مطلب خپور کړی چې په یوه برخه کې یې راغلي:
ولسمشر حامد کرزي ویلي، چې د برید سیمې ته یې یو پلاوی استولی څو د دې پېښې په اړه تحقیقات وکړي او ناټو هم ویلي چې په دې اړه یې لادمخه تحقیقات پیل کړي.
وال سټریټ ژورنال لیکي، که څه هم د طالبانو په حملو کې تردې زیات ملکي خلک وژل کېږي، خو د دې ډول پېښو پر مهال ډېر شمېر افغانان د نړېوالو ځواکونو په وړاندې خپله غوسه او قهر څرګندوي.
ورځپاڼه د ولسمشر حامد کرزي د دفتر له خوا د خپرې شوې خبر پاڼې یادونه هم کوي چې په کې ویل شوي، که چېرته د افغانستان د خلکو ژوند مصوون نه وي نو د افغانستان او امریکا ترمنځ د اوږد مهالو ستراتیژیکو همکاریو د موافقې لاسلیک به بې مفهومه وي.
ګارډین:
د انګلستان چاپ ګارډین ورځپاڼې د دې موضوع په اړه په یوه مطلب کې د ملګروملتونو د وروستی احصاییې یادونه کړې چې تېر ۲۰۱۱ کال یې د ملکي وګړو د تلفاتو له پلوه ترټولو زیات خونړی کال بللی، څکه پروسږ کال له وسله والو طالبانو سره د جګړو په ترخ کې د م.م په وینا له ۳۰۰۰زیات افغانان ووژل شول.
ملګروملتونو ویلي، چې له څلورو درې برخې دا وژنې طالبانو کړي خو ګارډین لیکي چې له دې سره سره افغانانو د دوي په وړاندې دومره غوسه نه ده ښودلې.

د توکیو کنفرانس د کورنیو ...

پرمختګ راوستل، د مشرانو جرګې د غړو له مهمو غوښتنو څخه وې.
د مالیې وزیر حضرت عمر زاخېلوال وویل، چې د افغانستان په اړه د توکیو په نړیوال کنفرانس کې به د نورو موضوعاتو ترڅنګ د مرستو د لګولو پر څرنګوالي هم بحث وشي.
د افغانستان په اړه د توکیو نړیوال کنفرانس په راتلونکې جولای کې جوړېږي او موخه یې له افغانستان سره تر ۲۰۱۴ کال وروسته له افغانستان سره په اقتصادي برخه کې مرستې دي.
زاخېلوال وویل، چې تر دې مهاله له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې ۲۰ سلنه مرستې د افغانستان د حکومت له لارې لګول کېږي او پاتې نورې یې بهرنیان په خپله خوښه لګوي او د پروژو په ټاکلو کې د افغانستان د حکومت لومړیتوبونه په پام کې نیسي.
ده زیاته کړه: "په اوسنۍ توګه د مرستو لګول د منلو وړ نه دي، اولویت به یې دولت ټاکي."
زاخېلوال وایي، بهرنۍ مرستې باید پر هغو پروژو ولګول شي، چې خلکو ته کار پیدا کوي، ملي عواید لوړوي او په هېواد کې دوام لرونکی اقتصادي پرمختګ رامنځ ته کولی شي.
زاخېلوال زیاته کړه، چې د افغانستان حکومت د خپلو کورنیو عوایدو د لوړولو او پرڅان د بسیا کېدو لپاره ۲۲ پروګرامونه په پام کې لري او تر ډېره به پر طبیعي سرچینو تمرکز وکړي.
دی وایي، چې دغه پروګرامونه به د توکیو کنفرانس ته هم وړاندې شي.
د زاخېلوال په وینا، له طبیعي سرچینو د افغانستان د کورنیو عوایدو کچه باید په ۲۰۱۴ کال کې ۴۰۰ میلیونه امریکایي ډالر، په ۲۰۲۰ کال کې یو میلیارد ډالر او په ۲۰۲۵ کال کې ۳ میلیارد ډالره وي.
د سوداګرۍ وزیر انوارالحق احدي، مشرانو جرګې ته وویل چې د تېرو کلونو تجربو ته په کتو سره، په افغانستان کې د بازار اقتصاد ګټور نه و او د ځینو بدلونونو اړتیا لیدل کېده.
د افغانستان د اساسي قانون له مخې، دولت، خصوصي پانګې اچونې او خصوصي تشبثات د بازار د اقتصاد د نظام پربنسټ د قانون له حکمونو سره سم هڅوي، ملاتړ یې کوي او مصوونیت یې تضمینوي.
دغه راز د دې قانون له مخې، په کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ پورې تړلې چارې د هېواد له اقتصادي غوښتنو او د خلکو له ګټو سره سمې د قانون له لیارې تنظیمېږي.
احدي وویل چې په صنعتي تګلاره کې د راغلو بدلونو له مخې، چې ژر به کابینې ته وړاندې شي، حکومت کولی شي په تولید او د خدمتونو په وړاندې کولو کې خپل محدود نقش ډېر کړي.
ده په هېواد کې د تولیداتو په اړه وویل، حکومت صنعتکارانو ته سبسایډي "مالي مرسته " نه شي ورکولی؛ خو پر بهرنیو توکو د ګمرکي تعرفو د لوړولو له لارې کولی شي د کورنیو تولیداتو ملاتړ وکړي.
احدي همداراز د صادراتو او وارداتو ترمنځ د انډول رامنځ ته کول ګران وبلل اوزیاته یې کړه، چې افغانستان یواځې هر کال ۲،۳ میلیارد ډالرو نفتي توکي له بهره واردوي.
د ده په وینا، انډول هغه مهال رامنځ ته کېدای شي چې د کورنیو تولیداتو کچه لوړه شي او نفتي توکي استخراج شي؛ خو زیاتوي: "فکر نه کوم چې د تادیاتو په بېلانس کې مطلق انډول ته ورسېږو. "
ده وویل، اوسمهال افغانستان هر کال څه باندې ۵ میلیارده ډالر واردات لري؛ خو د صادراتو کچه یې یواځې ۵۷۱ میلیون امریکایي ډالره ده.
د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر محمداصف رحیمي د مشرانو جرګې په غونډه کې وویل، چې دې وزارت په خپل ستراتیژیک پلان کې دوه موخې چې خلکو ته د خوړو او کار برابرول دي، په پام کې نیولې دي.
هغه زیاته کړه، په یاد ستراتیژیک پلان کې ځینې پروګرامونه په پام کې نیول شوي، چې د اوبو د سرچینو پراختیا، د کانالونو بیارغونه او د اوبو له ضایعاتو مخنیوی یې د پروګرامونو مهمې برخې دي.
د ده په وینا، اوسمهال تر کروندو پورې د رسېدونکو اوبو ۶۰ سلنه ضایع کېږي.
هغه همداراز په ولایتونو کې د سړو خونو او د کرنیزو تولیداتو د پروسس مرکزونو جوړول هم، د نوي پلان د یوې برخې په توګه یاد کړل.
د اقتصاد وزیر عبدالهادي ارغندیوال بیا په پرونۍ غونډه کې وویل: په تېرو څو کلونو کې په افغانستان کې داسې ځانګړې اقتصادي پالیسي نشته، چې ملي اړتیاوې ځواب کړي.
ارغندیوال وویل، د هېواد د اقتصادي ودې لپاره باید فقر او بېکاري له منځه یوړل شي او تر ډېره دې موخې ته د رسېدو لپاره، باید کرنیزې برخې ته ډېر پام وشي چې نږدې ۷۰ سلنه افغانان پرې بوخت دي.
هغه زیاته کړه، کرنیزو محصولاتو ته د بازار موندنې لپاره باید په کرنې پورې تړلې صنایع رامنځ ته شي، چې دا کار به د هېواد په پرمختګ کې مهمه ونډه ولري.

امریکا برای بازسازی بند...

و تولید انرژی برق کجکی را اعمار کنند.
رییس جمهور ترومن به خاطر رقابت منطقوی با جوزف ستالین رهبر اتحاد شوروی وقت، به اعمار بند برق کمکی موافقت کرد.
بند آبیاری و انرژی برق کجکی در سال ۱۹۵۳ اعمار و در سال ۱۹۷۵ تولید انرژی برق در آن آغاز شد. آن زمان دو توربین این بند فعال شده بود و ظرفیت تولید ۱۶ و نیم میگا وات انرژی برق را داشت.
اینک ایالات متحده، امریکا می خواهد در چوکات برنامه، مساعدت های انکشافی آن کشور در امر بازسازی بند برق کجکی سرمایه گزاری کند.
نیروهای امریکایی بعد از ده سال مبارزه و تحمل دشواری ها، سال گذشته توانستند، امنیت سرک بند برق کجکی را تامین کنند. در شرایطی که نیرو های بین المللی می خواهند افغانستان را ترک کنند، مسوولیت تامین امنیت پروژه، بند برق کجکی نیز به نیرو های افغان سپرده خواهد شد.
در حال حاضر بند برق کجکی نصف انرژی برق مورد نیاز ولایت هلمند و کندهار را تامین می کند و کانال های آبیاری آن، زمین های خشک زیاد را تحت آبیاری قرار می دهد.
در ولایت هلمند حدود ۴۵ در صد تریاک افغانستان تولید می شود.
ریچارد اولسن رییس اداره، انکشافی سفارت امریکا در کابل می گوید:
"پروژه، بند برق کجکی دوام تعهد امریکا برای یک افغانستان باثبات، متکی به خود، سعادتمند و خود کفاست. "
دریای هلمند از کوه های بلند هندوکش سرچشمه، گرفته، بعد از آنکه دریای ارغنداب و کندهار با آن یک جا می شود، از وادی خشک هلمند عبور می کند و داخل خاک ایران می شود.
بعد از تهاجم اتحادشوروی سابق در سال ۱۹۷۹ علاقمندی و مساعدت های ایالات متحده، امریکا به پروژه، کجکی کاهش یافت و در جریان جنگ های داخلی درافغانستان، ظرفیت آن به اندازه، کاهش یافت که صرف چراغ های دفاتر اطرفش را روشن می کرد.
در سال ۲۰۰۸ حدود پنج هزار سرباز نیرو های ایتلافی که تعداد زیاد آن ها بریتانیایی بودند، سومین توربین بزرگ آن بند را که ظرفیت تولید هژده ونیم میگا وات انرژی برق را دارد، به بند کجکی انتقال دادند.
ایالات متحده، امریکا ۲۶۶ ملیون دالر را به یک کمپنی پرداخت کرده است تا توربین سوم بند برق کجکی را فعال ساخته، سایر کارهای مربوط به آن را انجام دهد.
روزیان کیسی مسوول منطقوی اداره، مساعدت های انکشافی امریکا می گوید:
"به خاطر تامین امنیت بند برق کجکی بالای نیرو های افغان و امریکایی حساب می شود. تهدید های در عرصه، امنیت این بند وجود دارد و امکان دارد که این دشواری ها کار این پروژه، بزرگ را به تعویق بیاندازد. "
مقامات امریکایی آرزومندند، کار پروژه، بند برق کجکی الی ختم سال ۲۰۱۴ پایان یابد.
پروفیسور کولاتر استاد یک پوهنتون امریکا می گوید:
"امریکایی در دوران جنگ سرد برای سالیان متمادی به کار های بند برق کجکی ادامه دادند و آن را مساله، حیثیت و اعتبار شان می پنداشتند، اینک نیز براساس همان دلیل کار ها را پیش خواهند برد. "

مرسی: در صورت پیروزی...

مختلف، انقلابیون، زنان و جوانان را برای حضور در دولت برمی گزیند.
نامزد اخوان المسلمون تصریح کرد: معاونان رئیس جمهور را خارج از حزب آزادی و عدالت (شاخه سیاسی اخوان المسلمون) انتخاب می کنم.
وی با اشاره به اینکه دولت ائتلافی فراگیر تشکیل می دهد، تاکید کرده که در دولت آینده تمامی گروه‌های سیاسی شرکت خواهند داشت.
مرسی در این نشست خبری حل مشکلات کشاورزان و بخش جهانگردی را از اهداف خود دانسته و گفت: باید در راستای کوتاه تر شدن زمان تصویب قانون اساسی جدید گام برداشت.
وی در ادامه با اشاره به وضعیت نیروهای امنیتی مصری اظهار داشت که باید از ماموران پولیس مخلص تقدیر کرد و حقوق آینده آنها را نقض نخواهیم کرد و تخلفات مامورانی که جرمی مرتکب شدند، مورد بررسی قرار خواهد گرفت.
نامزد اخوان‌المسلمون در پاسخ به سوال خبرگزاری رویترز درباره حالت فوق العاده گفت: حالت فوق العاده لغو شده و این حالت در آینده وجود نخواهد داشت.
مرسی به مسیحی‌ها اطمینان داد که از حقوق برابر در کشور برخوردار خواهند بود و در دولت مشارکت حقیقی خواهند داشت.
وی تاکید کرد که آزادی‌های عمومی، آزادی اندیشه براساس قوانین وجود خواهد داشت و قوانین جدید متضمن مشارکت کامل و فعال جوانان و زنان در آینده خواهد بود.

دغه رنګ مو تاسې لوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت
د حزب اسلامي افغانستان شرايي ارګان
خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل محمد خلیل
د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسوول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه سترديږي. یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com